محمدافضل شیرینزوی

# د خدای ښنلی شهید پیلوټ الحاج ډګروال

## محمدعسکر حبیبزوی بیوګرافی

### د لوی ښښتن‌تعالی په سپیڅلی نامه



شهید الحاج ډګروال محمدعسکر حبیب‌زوی د الحاج مرحوم عبدالوکیل زوی په ۱۳۴۱ هجری شمسی کال کې د کابل ولایت د پغمان ولسوالی د محمدخیلو په کلي کې سترګی دې نړی ته پرانستې، او په ۱۳۴۹کال کې د خواجه مسافر(ع ر) ښونځي کې شامل او تر نهم ټولګي پورې خپلوزده کړو ته په یاد ښوونځي کې ادامه ورکړه، وروسته د ۱۳۵۸ کال کې په حربي ښونځي کې شامل او په ۱۳۶۰ کال کې له دولسم ټولګی څخه په عالي درجه فاروغ شو، او په همدې کال کې په هوایی پوهنتون کې شامل شو، وروسته له درې کلنو زده کړو په ۱۳۶۳ کال کې د هوایی پوهنتون څخه فاروغ شو، او د خپل عملي پروازونه په تعلیمي الوتکو کی د مزار شریف په دهدادي هوایی ډګر کې په بریالیتوب سره ترسره کړل او د الوتنو په برخه کې یې لوړ مهارت ترلاسه کړ.

او سم دلاسه (د ام جي ۲۱) ښکاری الوتکو د پیلوټ په حیث دنده پیل کړه او شپه ورځ د ګرانو هیواد والو په چوپړکې و. دلازاتو خدمتونو لپاره ۱۳۶۴ کال کې د (ان ۲۶) الوتکو په وسیله د هرات ولایت په شینډنډ هیوایی ډګر کې خپله دنده پیل او د ۱۳۶۵ کال تر پای پورې یې خپله دنده پر مخ وړله. د خدای ښنلی د ډیر کارکردګی او وړتیا له مخی، د ۱۳۶۶ کال کې کابل ته تبدیله او د (ان ۳۲) الوتکو د کنډک د قومندان په حیث وټاکل شو. همداراز د ۳۷۳ (ان ۳۲) الوتکو غونډ د سیاسی مرستیال او اداري مرستیال په برخه کې یې کار کړی دی. ۱۳۶۸ کال کې کله چې خوست ولایت کې د پرواز په لړکې الوتکه یې په ستنګر راکټ ولګیده او ښاغلی عسکر وتوانید چې په بریالیتوب

سره د خوست ولایت په هوایی ډګر کې ناسته وکړه، چې د وخت ولسمشر له لوری وستایل شو او ترفیع هم ورکړل شوه. دیادولو وړ ده چې د دویم ځل لپاره ۱۳۷۰کال کې له کابله د خوست ولایت پر لور د پرواز په لړ کې الوتکه یې د خوست ولایت هوایی ډګر کې له سقوط سره مخ کېږی او په پایله کې د وخت مجاهیدینو ډلی مشر په خوست کې د مرحوم جلالدین حقانی له لوری اسیر کیږی او تر څوارلسو میاشتو پوری اسیر وي، چې د ډاکټر نجیب‌الله د حکومت تر سقوط وروسته ازاد کیږی، له بند څخه تر ازادۍ وروسته له خپلی دندې سره د بې‌ساري مینې له وجی د ۳۷۳ (ان ۳۲) غونډ د الوتنو مرستیال په حیث یې دندې ته دوام ورکړ، په خورا خواشینۍ سره ځوانیمرګ زړه ور شهید عسکرخان له دې خبر نه و چې د هغه به دا وروستنۍ الوتنه وي. نوموړی د ۱۳۷۷ د زمری (اسد) میاشتې په ۱۱مه نېټه له کندهار څخه د کندوز ولایت پر لور روان و، چې د کندوز په ولایت کې د راکټي برید په پایله کې خپلو ملګرو سره د هېواد د دفاع او د خلکو د خوندیتوب په لاره کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. د هغه شهادت د هېواد لپاره ستره ضایعه وه، خو د ده قرباني د افغان ولس په تاریخ کې د ویاړ یوه ویاړمنه پاڼه ده.

پر شونډو یې مسکا، ورین‌تندی، مهربانه‌زړه، ځلانده او ښکلی‌څېره، دنګه او کاکه ځواني، په ټوله کورنی باندې له حده زښته زیات ګران، د ټولی کورنۍ غمخوار، نه یوازې د خپلې کورنۍ، بلکی د ټول کلي او قام خواخوږی او غمراز، پرماشومانو مهربان، زړه سواندی او د سخي زړه خاوند ځوانیمرګ شیهد پیلوټ محمدعسکر درته یادوم. هغه زموږ پر کورنۍ باندې د پاکـرب له لوري داسې لورینه وه چې په الفاظو جوړ نه‌رازي، دا به یې نه پوښتل چې دا زما ستونزه ده او که د بل‌چا، ټوله لویه کورنۍ پری را ټوله وه. د ټولوهراړخیزه ستونزې او مشکلات به په ده حل وو. د ټولی کورنۍ امید او هیله وروسته له پاک خدایه(ج) شهیدعسکر وه.

نوموړی نه یوازې یو تکړه پیلوټ و، بلکې یو بااخلاقه، متواضع او ولس‌پال انسان هم و. هغه هېواد او خلکو سره ژوره مینه لرله او تل یې هڅه کوله چې د خپل مسلک له لارې هېواد ته خدمت وکړي.

شهید پیلوټ محمدعسکر د افغانستان له هغو زړورو او هېوادمینو اتلانو څخه و، چې د هېواد د فضایي حریم او ملي حاکمیت د دفاع لپاره یې خپل ژوند وقف کړی و. نوموړی د خپلې مېړانې، مسلکي وړتیا او ژور ملي احساس له امله د ولس او کورنۍ په زړونو کې ځانګړی ځای درلوده او لري یې.

شهید پیلوټ محمدعسکر د یوې دینداري او باعزته کورنۍ په غېږ کې زېږېدلی و. له ماشومتوبه یې د هېواد مینه، نظم او د خدمت احساس درلود. د زده کړو تر بشپړولو وروسته یې د هوایي ځواک لیکو ته لار وموندله او د سختو مسلکي روزنو له تېرېدو وروسته د پیلوټ په حیث وټاکل شو.

هغه د خپل مسلکی ژوند پر مهال د کورنیو، بهرنیو الوتنو او د ډېرو مهمو حساسو ماموریتونو برخه و، چې ټول یې په لوړ احساسِ مسؤلیت، زړورتیا او ایماندارۍ سره ترسره کړل.

د ځوانیمرګ شهید پیلوټ محمدعسکرڅلور اولادونه دي، دوه زامن او دوې لونې. د یادولو وړ ده چې یو زوی یې له شهادت څخه وروسته دې نړۍ سترګې پرانیزي، محمد نظیم عسکرزاده نه د پلار مینه لیدلې او نه یې په خپله لیدلی؛ نو کله یې چې انځورته زیر شي، له سترګو یې اوښکې بهیږی او دا وایي چې: «ویاړم چې د داسي یو سترشخصیت زوی یم، آغا جان می...»

شهید پیلوټ الحاج ډګروال محمدعسکر به تل د مېړانې، وفادارۍ او ریښتینې وطن‌پالنې د سمبول په توګه یادېږي. د هغه نوم، قرباني او اتلولی به د راتلونکو نسلونو لپاره د الهام سرچینه وي. الله تعالی دې هغه ته جنت‌الفردوس نصیب کړي او کورنۍ، دوستانو ، ملګرو ته یې د صبر او اجر توفیق ورکړي.

**په پښتنه مینه**

ستاسو ورور محمدافضل شیرینزوی

